1020 متر مکعب

دکندهار ولایت ددامان ولسوالی د تور کوتل دساحی د تعمیراتی ډبرو پروتوکول د جامدو کانو ریاست او( شتاو ل — ) تر منځ

---

په دغه پروتوکول کی د جامدو کانونو ریاست د خرڅونکی په صفت

د( خرم شتاو ل )شرکت د مشتری په صفت.

۱ ـ قراردادی مکلف دی چه د( ۱۰۲۰ )متر مکعبه تعمیراتی ډبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله مبلغ( ۲۷۵۴۰ )افغانی کیږی د معدن د ساحی په شمول پیشکی د کانو ریاست په حساب افغانستان بانک ته تحویل کړی.

۲ ـ قراردادی مکلف دی چه په حجم د( ۱۰۲۰ )متر مکعبه تعمیراتی ډبری د(۶۰)ورځو په موده کی استخراج او انتقال کړی.

۳ ـ د لوڅونی ،استخراج او انتقال مصارفات په قراردادی پوری اړه لري.

۴ ـ دډبرو د استخراج او انتقال په جریان کی که کوم د معدنکاری داصولو او مقرراتو خلاف عمل تر سره شی مسولیت یی عام و تام د قراردادی پر غاړه دی.

۵ ـ قراردادی نشی کولای چه خپل تسلیم شوی بلاک جمعا یا جزا کوم بل شرکت یا شخص ته حواله کړی.

۶ ـ که چیری د پروتوکول په جریان کی غیر مترقبه حوادث چه دهغی پیشبینی دانسان د ذهن څخه خارج وی لکه(جنګ ـحریق ـ سیلاب ـ زلزله)او داسی نور پیښیږی قراردادی مکلف دی چه په (۴۸) ساعتو کی دکانو ریاست ته رسما اطلاع ورکړی.

۷ ـمالیه ـصکوک او نور تادیاتی تکسونه د قراردادی پر غاړه دی.

۸ ـد کانو ریاست مکلفیت لری چه وخت پروخت د قرلردلدی د استخراجی فعالیت څخه څارنه وکړی او کوم نواقص چه پیدا کیږی رهنمایی ورته وکړی.

۹ ـقراردادی مکلف دی چه د خپلو کارګرانو لپاره صحی او ایمنی شرایط برابر کړی.

۱۰ ـقراردادی مکلف دی چه د چاپیریال ساتنی شرایط مراعات کړی.

۱۱- قراردادی نشی کولای چه بیله معقول عذره چه په قانون کی ذکر شوی وی د پروتوکول د معین معیادتر پوره کیدو تر دمخه پروتوکول یو جانبه بسخ کړی.

۱۲- که چیری د پرو توکول په جریان کی د مشتری د طرفه کوم ضرر امیزهاعمال او فاحش غبن صورت ونیسی چه ددولت منافع ته ضرر ورسوی یدی صورت کی ددولت طرف کولای شی چه پروتوکول یو جانبه فسخ کړی او مشتری د خساری په جبران مکلف دی.

۱۳- پروتوکول په (۱۳) مادو کی ترتیب او د ولایت دمحترم مقام تر منظوری وروسته داعتبار وړ دی.

دغه پروتوکول د ۹۳/۶/۱۵ څخه تر ۱۳۹۳/۸/۱۴ پورې اعتبار لري.

په درنښت

د کانو د رییس امضاء

دقراردادی امضا

د ولایت دمحترم مقام ملاحظه شد

۱۳۹۳/۱۲/۱۷